محمد هارون خپل شعشعي


۱۹ سپتمبر ۲۰۱۱

## د
## علي محمد مُخلِص
## عرفاني فرهنګ
## د
## محمد هارون خپل شعشعي
## ليکنه او څېړنه
## ۹

### ۱۹- تخلقوا بِاخلاق الله :

د اسلامي تصوف او عرفان له نظرياتو سره سم ، د سير او سُلوک لاروياں د يو لړ عرفاني منزلو او مقامو تر برياني تېرولو وروسته د فنا في الله او بقابالله لوړ عرفاني مقام ته رسيږي . په دې مقام کې، سالِک خپله بشري جامه په بشپړه توګه له منځه وړي؛ او ځان د حق تعالی په بې مثله هستی کې ډوبوي . له بشري او انساني صفتوڅخه د عارف يا صوفي بشپړ خلاصون؛ او د الهي صفتو يا په دقيقه ماناد حق تعالی دخوښ سوو صفتو او اخلاقو غوره کولو ته، د اسلامي تصوف او عرفان په ژبـــــه « تخلقوا بِاخلاق الله » وايي .

دا عرفاني اصطلاح ، د اسلامي تصوف او عرفان د زياترو مخکښو لارښوونکو په آثارو کې بيان سوې ده . وتلئ اسلامي عــــــــارف، شيخ نجـم الدين رازي (په ۶۴۵هـ ق کې مړ) په خپل مشهور عرفاني او فلسفي اثر « مرصاد العباد من المبدأ الی المعاد » کې د « تخلقوابِاخلاق الله » لوړ عرفاني ته مقام ته رسېدل، د کامل پير يا واصل شيخ له پينځو ارکانو څخه يو مهم رُکن ګڼي[۱] . »

د اسلامي تصوف او عرفان د مشهور انګرېز ليکوال او څېړونکي - پوهاند نيکلسن (۱۸۶۸ - ۱۹۴۵م) د څېړني له مخې د «کتاب اللمع » مؤلف ، نصرالسراج، دخپل کتاب په دوو برخوکي، د « تخلقوا بِاخلاق الله » مقام ته رسېدلي عارفان او صوفيان، په داسي ټکو انتقادوي : « د بغداد ځينو صوفيانو په خپلو دوکتورينو کې دا تېروتنه کړې ده، چي ګوندي د خپلو انساني خويوپه پرېښوولو سره، د خدای خويونه ترلاسه کوي[۲] . »

زمونږ لوړ مقامه عارف شاعر ، علي محمد مُخلِص، هم په خپله عرفاني شاعرۍ کي د« تخلقوا بِاخلاق الله » لوړ او بې ساري عرفاني مقام، په ډېر غور سره څېړلئ دئ . په یوه غزله کي د موحد او « تخلقوا بِاخلاق الله » تر منځ اړېکی داسي سپړي :

موحد مثال ارواح، عالَم صورت دئ
پر صورت باندي تل مهر د ارواح شي
د ارواح په اِرادت گرزي پر بحر
دا صورت مانند کښتی د روح ملاح شي
موحد چي تخلقو اِباخلاقي شي
د صورت له بده خویه به فلاح شي
چي فاني شي بقايي د ابد مومي
دا فنا به يي د بقايي مفتـــاح شي

په یوه بله غزله کي بیا هم « تخلقوا بِاخلاق الله » تر انساني خویو ډېر لوړ ، د کاملانو مقام گڼي :

د بشر خوی عذاب و گڼه قطعي
چي يي خوی نه تخلقوا باخلاق الله شي
غم، غيرت، کبر، کينه د هيچا نه که
کاملان د د نېک و بدو خيرخواه شي

دنور مالومات دپاره وگورئ : موتوا قبل ان تموت، هستي او نيستي يا وجود او عدم ، فنأ او بقأ، نفي او اثبات، جمع او جمع الجمع، وحدت، سکونت .

لمنليکونه

۱ رازی ۲۲۸ .

2 Nicholson 157.

## ۲۰- تجلا / تجلی :

د اسلام په عرفاني آثارو کي، د تجلا او جلوې اصطلاح، خورا ډېره کارېږي . ځني عارفان، تجلاد مکاشفي هغه انوار او وړانگي گڼي، چي د حقيقت موندني په لار کي، د حق تعالی له خوا د سالک پر زړه اوري . د اسلامي تصوف او عرفان وتلي لاربنود، شېخ ابوالحسن علي بن عثمان هجويري (په ۴۶۵ هـ ق کي مړ) په خپل مشهور عرفاني اثر (کشف المحجوب) کي ، تجلا د غوره سوو يا وياړلو مخلصانو پر زړو، د حق تعالی د انوارو اغېزه بولي . د ده په نظر، عارفان په دې نور سره، د دې وس مومي، چي د زړه په سترگو د لوی ښتن دیدار وکي . البته، د زړه په سترگو دا دیدار، د حق تعالی له هغه مخامخ کتني يا دیدار څخه ډېرتوپير لري، چي په جنت کي يي له کتونکو سره ژمنه سوې ده . د ده په اند، سالک کولای سي پر خپل زړه باندي د پروردگار دا ځلېدونکي تجليات، په بېلابېلو بڼو پټ کړي؛ خو د الله تعالی پر رويت پرده نه اچوله کيږي۱ . ځينو نورو تجلا هغه الهي نور گڼلئ دئ، چي د سير او سلوک د لومړنيو مقامو او منزلو تر بشپړولو وروسته د« فنا في الله » مقام ته

په رسېدو سره د سالک پر زړه ځلیږي[۲] . ځيني، تجلا د عارف پر زړه د حق د انوارو هغه بریښنا بولي، چي عاشق يي له ځلا او رڼا څخه بې هوښه کيږي .

په تصوفي او عرفاني بحثو کي زياتره د تجلا د دغو درو ډولو يادونه کيږي :

- ذاتي تجلا، چي مشاهده يي له شهودو څخه ګڼله کيږي .
- صفاتي تجلا، چي په جلالي صفتو سره خشوع او خضوع پيدا کيي( کوي)؛ په جمالي صفتوسره خوښي او مينه را منځ ته کيي؛ او مکاشفه يي له شهودو څخه ده .
- افعالي تجلا ، چي محاضره يي له شهودو څخه ده[۳] .

د اسلامي عرفان په باريکيېو خبر عارف، علي محمد مخلص، په خپله عرفاني شاعرى کي، د الهي تجلاوو د ځرنګوالي او ارزښت په اړه، ډېر ژور او رنګين بيانونه کړي دي . هغه، په يوه غزله کي د عارف زړه له هغي بې ساري هينداري سره تشبيه کيي، چي تل د حق تعالى په تجلا او انوارو سره روښانه يي :

زړه بې مثله آينه ده، دى مظهر د تجلا شه
حق دايم پري تجلى که دى زيبا منظر رعنا

د مخلص د عرفاني ډکتورينو له مخي، د عالمو د خالق بې مثله شغلي او پلوشي، د سالکانو په زړو کي داسي خوښي اومستي پيدا کيي، چي د هغي په مرسته غواړي ځانونه د صورت او مادي له قفسه ازاد، له خپل حقيقي معشوق سره يوځاى کړي . د ده په عارفانه کلام کي په دې باب داسي لولو:

هغه زړه چي شي روښـــان د ذات له نوره
د صورت قفس به مات که له سروره
چي آفتاب د معرفت باندي و خـيژي
د زمين مخ به آزاد کـه له بدوره

د نور مالومات له پاره وګورئ : پوهه او عقل، حضور او غيبت، ذکر او فکر، عرفان اومعرفت، فنأ او بقأ، ولي او ولايت، هستي او نيستي او داسي نور .

لمنليکونه

۱ هجويرى ۷۱۳ - ۷۱۴ .
۲ عميد ۱: ۶۴۷ .
۳ وردى « تعليقات، » زبدة الحقايق ۱۲۶.

پاته لري